


# د پښتو ادب اوفرهنګ له پیاوړي لیکوال او تکړه شاعرښاغلي شهسوار سنګروال سره مرکه

## مرکه وال: انجنیر عبدالقادرمسعود

زموږ په افغاني ټولنه کې د پښتوادب اودشعرهنریولرغونی تاریخ لري، چې زموږ دهیواد ویاړلي فرهنګي شتمني ده. دشعر هنردادب او فرهنګ په ډګرکې هغه ښکلې او په زړه پورې هنردی، چې زموږ لیکوالان او شاعران دخپلې شعري ژبې په وسیله د هیواد دبیلابیلو مسایلوپه اړه د خپلې ټولنې د پیښو، طبیعي او ټولنیزو ستونزو واقعي او عیني ځیره هغه شان، چې وه او ده، خپلو هیوادوالو ته دخپل رنځور زړونو دردونو، آرمانونو او د عواطفو نه ډک انساني احساسات په دیر هنرمندانه او ظریفانه شکل بیانوي. یو له دغو تکړه لیکوالانو او شاعرانو له ډلې څخه زموږ دهیواد پیاوړی لیکوال او شاعر

ښاغلی شهسوار سنګروال دی، چې په (۱۹۵۱) زیږدیز کال د لغمان په غوږیدلي او ښیرازه ولایت د سنګره په کلي کې زیږدلی دی. نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې د سنګره په لومړنۍ ښوونځي، مینځنۍ زده کړې د روښان په لیسه کې، لوړې زده کړې یې د ننګرهار په عالي دارالمعلمین د تاریخ او جغرافیې په څانګه کې سرته رسولي دي.او وروسته یې په هوډمنه توګه دادبیاتواو بشري علومو په پوهنځي کې د پښتو د څانګې لیسانس ترلاسه کړی دی. بیا یې د ماستري کورس د تاریخ او جغرافیې په څانګه کې پیل کړ، خو له بده مرغه، وروستي یاني څلورم سمستر یې د کورنۍ جګړې له کبله بشپړ نکړ.

## رسمي، علمي او ټولنيزې چارې او دندې :

ښاغلی شهسوارسنګروال دښوونې او روزنې، د اطلاعاتو اوکلتوراو دلوړومسلکي زده کړو په وزارتونو کې دندې ترسره کړي دي.

- په (۱۹۹۲) زیږدیز کال په پیښور کې یې د احمدشاه ابدالي پوهنتون (اوسنی دخوست پوهنتون) بنسټ کېښود او د ریس په توګه وټاکل شو، او څلور کاله یې د دغې پوهنتون چارې پر مخ بیولې، د پوهنتون د علمي مهالنۍ تاسیس او مشري یې پر غاړه لرله، په لندن کې یې دافغان ادبي جرګه تاسیس کړه  او د دې جرګې مشردی.

## چاپ شوي آثار:

شمله، هوسۍ او کیږدۍ، د شبنم ښېښه، دنکریزوپاڼه، مساپر، دسپین غر لباسه څانګه، د ډرامې تاریخ او فن، د پښتوادبیاتومعاصرتاریخ، دافغانستان قومونه، د تاریخي جغرافیې څرنګوالې، داستاني ادبیات، دتاریخ مرصع تاریخي څیړنه او په لسګونو کیسې، په (برتش)کتابتون کې قلمي نسخې، د تاریخ په تله، دپښتوادبیاتوتاریخ، داسې پیغلې هم شته، دا لکه ورکه زرکه او داسې یو شمیر نورآثار....

پوهاند داکتر محمد حسن کاکړ، چې زموږ دهیواد یونومیالی او هیوادپال لیکوال دی، دسنګروال صاحب دیو اثر په اړه، چې (دافغانستان دتاریخي جغرافیې څرنګوالې نومیړي) داسې لیکي :

((... د ښاغلي شهسوارسنګروال په (۴۸۰) مخونوکې مې د هغه نوی اثر دافغانستان تاریخي جغرافیې څرنګوالې په نامه ولوست. دا لومړۍ لیکنه ده، چې په پښتو کې د دغې موضوع په هکله شوې ده:

د موضوع دنوي توب سره سره دښاغلي سنګروال دغه ليکنه روانه، دقيقه او ژبه يې رنه او خوږه ده او د هرې موضوع په هکله هغه څه په کې ځاى شوي، چې په هغې پورې اړه لري. له څه لږ سلو سرچينو څخه د مجلو او کتابونو په بڼه کټه اخيستل شوى ده. دغه سرچينې يوازې په پښتو او فارسي کې دافغان پوهانو نه دي، په انګريزي کې دباندنيو پوهانوهم دي، چې ښاغلي سنګروال په لندن کې د برتانيې کتابتون (برتش لايبرري) څخه د اوږدې مودې په بهير کې په څېړنو او پلټنو سره تر لاسه کړي دي ....
په لندن کې ديو افغان لپاره هغه هم دمهاجرت په حال کې او دکورنى په لړلو سره علمي څېړني کول او بيا د هغو پربنسټ ليکنه برابرول لکه هسې، چې ښاغلي سنګروال برابره کړې او په هغې سره يې دوطن دبيلو بيلو سيمو تاريخ او جغرافيه په لرغونومهالونو کې روښانه کړې ، دپوهې، پوهنې اوکلتورسره دهغه مينه څرګندوي. د دغسې يو اثر کښل يې د دغسې مينې څخه ګرانه ده، له پوهې، پوهنې او کلتور سره د ښاغلي سنګروال مينه اوږد تاريخ لري.... ))

سنګروال صاحب د خپل علم، پوهې او آثارو په وسيله زموږ دعلم او ادب ډيوه بله او روښانه ساتلې ده. دى نه يوازې، چې شاعر او اديب دى، بلکې زموږ دهيواد يو تکړه تاريخ پوه، سياست پوه، ټولنيز پوه او څيړونکي هم دى.

ښاغلى حبيب الله رفيع، چې زموږ دهيواد يونامتو ليکوال او وتلى څېړونکي دى، د سنګروال صاحب د يو اثرپه اړه چې (د ډرامې تاريخ اوفن) په نوم يادېږي داسې ليکلي دي:

(... ښاغلى سنګروال صاحب کلونه ـ کلونه مطالعه کړې، د ډرامې پر پيدايښت، هنر، ډولونو، تحولونو، بدلونونو، دپښتو ډرامې په بنسټونو، تاريخي بهير، جوړښت، انواعو، راډيويي، تلويزوني، سينمايي او ستيج ډرامو غځيدلى او بيا يې دا ټولې خبرې راغونډې کړي او لوستونکي ته يې دخپلې اوږدې مطالعې نچوړ وړاندې کړى اوپه ډرامه خصوصا پښتو ډرامه يې يوغنيمت اثر ليکلى دى، سره له دى چې په ډرامه باندې تر دې وړاندى هم په پښتو کې څېړنې شوي او کتابونه پرى ليکل شوي، خو د ده کتاب په دې برخه کې تر ټولو پخوانيو څېړنو نه جامع دى، او دپښتونخوا د ټولو سيمو پر ډرامو او تمثيلي هنر خبرې لري. د ده په څېړنه کې لويه خبره داهم ده، چې تشه توصيفي نه ده، بلکې انتقادي خوا هم لري او دپښتو ډرامې په ښېګڼو او نيمګړتياوو دواړو باندې غځيدلى دى او رښتيا هم، چې دا ډول څېړنه لوستونکى له تيارې نه رڼا ته راباسي او د دقت حس يې پياوړى کوي.... )

سنګروال صاحب په خپلو آثارو اولکينو کې زموږ دهيوادوالو پر ملي وحدت او د يوالي او اتفاق پر بنسټ دسولې، سوکالې، ورورولى دخپل ولس دژبې، ادب او فرهنګ

دپرمختیا اوپراختیا په اړه او د یوې مترقي ټولنې په جوړولو کې با ارزښته او ګټورې لاربښوونې کړې دي.  ده په خپلو شعرونوکې د بیلابیلوپدیدو، حوادثو او حالاتو په اړه خپل لوړ تخیل ښکلي اوظریفانه تشبیهات، کنایات اواستعارات او داسې یو شمیر نورشعري ترکیبات په ډیرو ښایسته کلماتو کې او په ډیر ښکلي انداز سره په روانه، ساده خوږه او شاعرانه ژبه کې بیان کړي دي. چې په خپلو ادبي او فرهنګي آثارو دادب د مینه والو تنده ماتوي. ده په هر ډول شعري فورم کې خپل قلم اوچت ساتلی دی، که غزل دی او یاسپین او آزادشعراو داسې نورشعري ډولونه. د ده شعرونه د محتوا او مضمون له پلوه رنګین، غني اوښایسته دي. دبیلګې په توګه د ده دشعرونو دا بیتونه لولو:

## وطنه!!!

عزت دې لوټ شو په نامه دې خاورې پریوتلې

د ننګ په کور د ننګ په وره دې خاورې پریوتلې

د تورې ځلی دې را پریووت د اغیار پښو کښې

چې د شملې په هر یو وله دې خاورې پریوتلې

له مونږ لار ورکو د جانان پوښتنه ولې کوې

د بې وطن لالې په پله دې خاورې پریوتلې

....

اویا:

کاڼو دکوڅو یو لیونو په مخه کړې یو

مونږه پخپل کلي کښې پردو په مخه کړې یو

مونږ د اسرافیل شپیلی ته ګوروځان ته نه ګورو

ګورو چې ژوندي یو خو مرګو په مخه کړې یو

ګورمه ماښام ته لمر خاندي ورته ژاړمه

ځغلو له ډیوو سره تیارو په مخه کړي یوو

ګل د پسرلي يم زه رژيږم غوټۍ هم ژاړي
مونږ لکه ښکه توپانو په مخه کړي يو

....

اويا:

## دا به څوک وي؟

د پښتون د دېرې کنج کښې راختلی سپین سهار وو
خورا ډېره موده وروسته ځلېدلی یو لمر وو
له مستی نه جوړې سترګې لکه جام ډک له یاقوتو
د نیشو له هستی جوړ وو دخوشحال غوندې يو سر وو
د جانان اوجره کښې لوی شو لیونی وو خو پښتون وو
یاغي شوی له پنجرو وو هر اورنګ ته جوړ سنګر وو

....

اويا:

## مور ته!!!

چې هره شپه دې دا خوږې سترګې په خوب کې ګورم
ستا د کعبې د عبادت توبې په خوب کې ګورم
دا مې ارمان ووچې ستا پل زه په کعبه شین کړم
ستا د دوعاوو نوراني لپې په خوب کې ګورم
د عرفات په غره ختلی در پسې وم مورې!
خاطرې هغه شېبې شېبې په خوب کې وینم
څه بختور وم چې کعبه او هم مې مور لیدله
د مور سجدې د مور اوږدې تسبې په خوب کې ګورم

ماته قبله ماته مکه يې زما ستړې مورې!

ستا ستړي ستړې هغه شپې ورځې په خوب کې ګورم

....

اويا:

چې سپوږمۍ په سپينه لار، بللې څانګې

وې غوټۍ راشه زما تر وزرو لاندې

په چوپتيا کښې چې غوړيږي موسکا شونډې

په مړوند ورته ډيوې بلې کړه باندې

د انصاف لمن توپان کړه پانه پانه

زه په ليو درته ژاړمه ته خاندې

غمازانو د تومت لومې خورې کړې

نښلوي په کښې د ښکلي اسمان وړانګې

سنګروالـه چې د ګلو باغ مې لوټ شو

ملک مې لوټ شو ځکه ووتم د باندې

....

اويا:

مينه د جانان کلي کښې شور کړي

اوښکې په ګريوان راته سور اور کړي

چوپ يم خو تسبې دې په نوم اړوم

وايي غمازان زړه کښې څه نور کړي

خلکو دا بدنام له بامه ښکته کړی

ګورۍ په تندي راته پيغور کړي

....

اويا:

له لویې لارې چې کاږه شول یاران

اغیار ته ځکه زړه نا زړه شول یاران

ساقي چې خپله میکده خرڅه کړه

ځکه له یوې مخې نه غله شول یاران

مستي دوکه شوه مینه ځکه لوټ شوه

چې په رڼا ورځې ویده شول یاران

د خولې وعدې جانان بدلې نه کړې

ځکه توده یاران، ساړه شول یاران

....

اویا:

له خدایه هېر نه یو خو ځان هېروو

په ځان شکمن یو چې جانان هېروو

مونږه د جستو سوداګر لیوني

چې د الماس غوندې ایمان هېروو

لپو کښې ورک یوو لا ځان نه پیژنو

د بل ځولۍ کښې یو جهان هېروو

....

اویا:

پیغلې د وطن دوطن پیغلې ښاغلي دي

خواره اروپا شه چې دا څرنګه یې نجونې دي

پېغله د وطن چې له منګي سره ګودر ته ځي

غرونه غرونه زلفې ښايسته نجونې چکر ته ځي

هره ورځ چې ګورې ته به وايې چې اختر ته ځي

سره لاسونه سرې شونډې نيمزالې او پيمخې دي

مينه بې حيا ده او حيا يې پاکه مينه ده

مينه يې رښتيا ده ورته ګرانه لکه وينه ده

نه دي غولوي هره خبره يې تکه سپينه ده

خومره مينه ناکې دي او خومره ښکلې ښکلې دي

....

اويا:

چې کوي ديار تر څنګ د هجران ذکر

لکه شيخ ته د کمزوري ايمان ذکر

ما په هغو ليونيو کې حساب کړی

چې کوي دخپل شلېدلي ګريوان ذکر

چا چاپېره سمندر زه په کې ناست يم

خپلو دښتو ته کوم دباران ذکر

زه د سرو زرو په کلي کې ايسار يم

تش په شعر باندې ليکم د جانان ذکر

....

اويا:

مونږ په اصل کښې سره يو ملت يو

دا چې مونږه سره ويشي مخ يې تور شه

تور او سپين په مونږ کښې نشته سره يو يو

څوک چې مونږه جنګوي ځمکه پرې اور شه

....

اويا:

# پسرلی

دا خادې څانګې به نن سبا غوړيږي

دا ځولې ځولې ګلونه به مستيږي

د موسم ښبنتن را والوته په دبنتو!

د غوټيو اوربلونه سينګاريږي

د سينځلو زلفې پريوتې مخ بنکته

د سهار د نسيم زيرى پرې لګيږي

د ګلاب پګړۍ کښې پرخې، مرغلرې

چې د ګل له شملو څاڅکي راڅخيږي

ښاپيرۍ پيغلې را ووتې له کوره

پلوونه به له څانګو نه ځکيږي

....

سنګروال صاحب يومتواضع، مينه ناک، اومتفکر انسان دی، دی دعلم، پوهې او ادب سره ځانګړې مينه لري، او دپښتو ادب او فرهنګ په ډګرکې يې دخپلو آثارو په وسيله خپلو ګرانو هيوادوالوته د قدر او ستاينې وړ خدمتونه تر سره کړي دي.

د سنګروال صاحب دپوره پيژندګلوي په اړه ما له ده سره يو مرکه نيولې ده، چې د تاسو پر علم، شعر او ادب مينانو پام ورته راګرځوم:

سنګروال صاحب سلام، زما نيکي هيلي او پيرزويني ومنې، اجازه راکړې، چې خپلې پوښتنې پيل کړم :

پوښتنه: دشعر د تعريف په اړه بيلابيل نظريات موجود دي. په دې هکله ستاسو ليد څه دی؟

ځواب: رښتيا هم چې دشعردتعريف په اړه بيلابيل اندونه او نظرونه تر سترګو کيږي، ولې بيا هم دشعر په اړه د شعرپوهانو څرګندوني بې ګټې نه دي، خو داسي هم نده چې و وايو: (۲+۲=۴) کيږي. موږ د شعر په اړه دارنګه انګيرو:

- شعر دمتفکر انسان دعواطفو انعکاس دی.

- شعر هغه موزون کلام دی چې د شاعرانه تخيل هستي دهنري ارزښتونوله مخې پکې انځور شوي وي.

- شعر دسرود او آواز په مانا دی.شعريومخيل کلام دی.

- شعردطبيعت انځور او تقليد دی. (ايتو)

- نصير طوسي ويلي دي چې دشعر اصلي موخه شاعرانه تخيل دی.

- شعر له خپله ځانه بله موخه نه لري.(بودلر)

دارنګه په لسګونو څرګندوني دشعر په اړه لوستلی شو. زه شعر يو ژبنی هنرګنم اوپدې تکي تينګار کوم چې د شعر غوښنی او هدوکي، دشعر ځمکه او مينځپانګه، دشعر بڼه او ښکلابايد په ټولنيزچاپيريال کې ولټول شي.

پوښتنه: هرشاعرله طبعيت او ماحول څخه اغيزمند کيږي، چې موزون او منظوم کلام او عاطفي احساسات بيان کړي. تاسو ديو شاعر په توګه دا کلام اواحساسات څه ډول ځيږي؟

ځواب: انسان يو ټولنيز مخلوق دی، شاعر يوانسان دی، احساس لري اوانساني عاطفه، نو هرومرو له طبيعي اوټولنيز چاپيريال نه اغيزمند کيږي.

پوښتنه: ستاسو په نظر شعرالهام دی که انساني تجربه؟ او دا راته ووایاست، چې شعريو ذاتي اوفطري ضرورت دی اوکه يو ډول تفنن؟

ځواب: شاعرانه الهام دشاعر لپاره رواني ارزښت لري، او ژاک ماريتن

(Jacques Maritain) پخپل نامتو اثر (کريتيپ ان تيوشن ان ارټ اند پوټري)

په دې اړه کښلي دي: (کله چې شاعر شعر ليکي له خپل ځانه بيګانه کېږي. دا چې ولې داسې کېږي؟ لامل يې يو اروايي او رواني حالت ګڼي.... ماريتن دخپل اثر په پای کې کاږلي دي: (شاعر په شاعرانه الهام سره رواني لوری پياوړی کوي.)

اپلاتون د شاعرانه الهام په اړه کښلي دي: (تر هغې چې شاعر ته الهام ونشي شاعر د نوښت جوګه نشي ګڼل کيدی.)

دلته دنوښت يادونه وشوه. نوښت دشاعرلپاره داسې مانا لري لکه عادي انسان چې څوک له (مسو) سره پرتله کړي او نوښتګر انسان بيا له (سرو زرو) سره. يو شمير نور بيا داپلاتون نظر نه مني په دې لړ کې(ديلن تامس) دی چې الهام دشعر له قلمرو او چاپېريال نه باسي او (بودلر) د شاعر لپاره مشق او تمرين غوره ګڼي.

دې کې شک نه شته چې شاعر کله ناکله له يوې کلمې نه هم الهام اخلي. ولې د شعر ويلو ستره هستي بيا هم هماغه شاعرانه تخيل دی او الهام ديوه بهرني توکي په توګه د نوښت او ارزښت وړګڼلی شو.

پوښتنه: ستاسو په نظر ديو ادبي سبک او مکتب تعريف څه دی؟ ادبي سبک او مکتب څنګه منځ ته راځي او څنګه له منځه ځي؟

ځواب: په هر تاکلي ادبي پېر کې چې دتېر په پرتله يو نوی ادبي خوځښت او يونوی ادبي بهير د يوه ستر نوښت او پايښت په توګه مينځته راشي ادبي سبک اومکتب يې بولي.

دا چې ولې له مينځه ځي؟ د دې لامل دادی چې يو بل نوی ادبي خوځښت چې د بنې او مينځپانګې له مخې نوی وي او نوو تولنيزو اړيکو په رڼا کې نوي مانيزاوښکلاييز ارزښتونه مينځته راوړي او بيا نوی د زوړ ځای ناستی شي.

موږ په پښتو اوپارسي کې دخوشحال سبک، رحمان بابا سبک، دحميد مومند سبک. په پارسي کې عراقي سبک، خراساني سبک، هندي سبک او نړيوال ډګر کې کلاسيزم، رومانتيزم، رياليزم، سورياليزم او نور د ساري په ډول يادولی شو.

پوښتنه: تاسو دشعرپه پيژندګلوي کې دبيان علم، دبديع علم، دمعاني علم او دعروض علم څه ډول څيرې؟ مهرباني وکړی په دې اړه په لنډه توګه خپل نظر راته بيان کړی؟

ځواب: له بيلا بيلو لارو نه د يوې واحدې مانا څرګندولو ته د بيان علم وايي، او په څلورو بنسټيزو توکو ولاړ دی: تشبيه ـ استعاره- مرسل مجاز او کنايه، چې دا هر توکی دشعر د هنري ارزښت لپاره بنسټيز ارزښت لري.

ياباين علم هغه دی چې د يو شي ټاکلي مانا په بيلابيلوبڼو وړاندې کړي. د موضوع دمانا لپاره چې يوه کلمه استعمال شي او تصرف هم په کې ونه شي نو ديته تشبيې، مجاز، استعاره او کنايه وايي. پدې صورت کې يوه قرينه هم ښايي موجوده وي. خوکه چيرې دغه قرينه دموضوع د مانا د ارادې د سلبيدو سبب شي، نو پدې وخت کې اسلوب ته مجاز او استعاره وايي. له دينه پرته نوروته کنايه او تشبيې وايي.

دبديع علم: د يوه کلام فصاحت او بلاغت څيړي چې په لفظي او معنوي ښايستونوويښل کيږي. له دې سربيره بديع علم ديوه کلام ډولونه راپيژني چې کومې لفظي او معنوي ښيګڼې لري؟

د معاني علم: دا علم ديوه کلام د بيلابيلو ډولونو مطالعه کول دي. د معاني علم توپير دبيان له علم سره پدې کې دی چې په بيان کې په تخيل ټينګار کيږي او په معاني کې په تعقل.

دعروض علم: په دويمې ليږدي پيړی کې خليل بن احمدبصيري د يوناني او رومي له اغيزې او سيالی سره دعروض علم مينځته راوو. دعروضو توکي په افاعيلو ولاړ دي او افاعيل هغه حرکات او سکنات دي چې بيت ترې جوړيږي. دعربي عروضوبحرونه شپاړلس ټاکل شوي دي چې په دغه لړ کې (۱۵) بحرونه د احمد زوی خليل کښلي دي او پاتي يو بحر ابوالحسن اخفش ورزيات کړيدي.

پوښتنه: مهرباني وکړی، په شعرکې دوزن، قافيې، رديف، تشبيهات، کنايات، استعارات، او سمبولونوپه اړه په لنډه توګه معلومات راکړی؟

ځواب: په لومړي سرکې داسې انګيرل کيده چې ګڼې قافيه دشعر اصلي رکن دی. وروسته شعر پوهانو څرګنده کړه چې وزن د شعر اصلي رکن ګڼل کيږي نه قافيه. ولې کله چې د قافيه وال کلام په څنګ کې نوي شعر، ازادشعر، سپين شعر او منثور شعر خپل وزرونه پرانستل، نو اوس زه پدغه ټکي ټينګار کوم چې شعر يو مخيل کلام دی.

پښتو اولسي شعر خپل وزن لري او خپل سيلابوتونيک ارزښت.همدارنګه پښتو شعر د خپل څپيز او خجيز جوړښت له مخې خپل آهنګ لري او خپل تول او تون.

قافيه: قافيه د وروسته په مانا ده او هغه پوهنه ده چې د دور له وروستيوهم آهنګيو څخه بحث کوي. ياني دا چې دشعر دپای کلمې او په کلمه کې د پای توری قافيه ګڼل کيږي.

رديف: د شعر هغې وروستی برخې ته وايي چې په شعر کې په ورته بڼه او ورته مانا تکرار شوی وي خو د قافيې برخه يې نشو ګڼلی.

قافیه (۹)نه توري لري چې عربو (۷) اوه بللي دي او بیا عجمووربانديٰ دوه توري (مزید – نایر) ور زیات کړل. نور توري دا دي: (ردف، قید، دخیل، تاسیس، روي، وصل، خروج). د قافیې په (۹)نه تورو کې د مینځ توری روي دی او پرته له روي نه قافیه نه ترل کیږي.

تشبیه : تشبي د ورته والي په مانا ده او د دوه توکو په ګډون چې واحده مانا ولري. هغه دوه توکي مشبه او مشبه به ګڼل کیږي چې ګډه مانا یې (وجه شبه) بولي. یا په بله مانا د یو شي ورته والی له بل شي سره تشبیه ګڼل کیږي.

کنایه: دکنایې ژبه د اشارې او رموزژبه ده او د پردې تر شا د پټو خبرو ژبه. کنایه د تصریح ترک کولو ته وایي او په درې ډوله ده:

۱- کنایې نه موخه یوازې موصوف شوی زات دی.

۲- له کنایې نه موخه یوازې دموصوف له صفتونو نه یو صفت دی نه دې زات موصوف.

۳- د موصف لپاره د صفت اثبات ته کنایه وایي.

استعاره: په امانت ډول د یو شي طلب کول دي. په استعاره کې مشبه ته مستعارله او مشبه ته مستعارمنه او هغه مانا چې د مستعارله او مستعارمنه په مینځ کې راځي هغه ته وجه جامع وایي.

استعاره په غیر حقیقي مانا کې د لفظ استعمالیدل دي.

سمبول: ځني داسي نښې او د نښو له مخې جوړ شوي سمبولونه د شاعر په نړۍ کې شته چې دخلکو له سترګو نه پټ دي.

(بودلر) د سمبولیزم له بنسټګرو څخه ګڼل کیږي چې د سمبولیزم د ودې او پرمختګ لپاره یې ډیرې هلې ځلې کړیدي. په ټوله کې سمبولونه په دوه برخو ویشل کیږي.

پوښتنه: تاسو په شعرکې قالبونو لکه: مثنوي، قصیده، غزل، مخمس، مسدس، ترجیع بند، ترکیب بند، رباعي، قطعه یاځلوریځې څه ډول ځیرې؟

ځواب: پښتو ژبې له ملي او اولسي شاعرۍ پرته یوشمیر قالبونه له عربي ژبې اخیستي دي، چې دغه قالبونه په بیلابیلو وختونو کې پښتو ژبې خپل کړیدي. دمثال په ډول:

په دریمه لیږدیزې پیړۍ کې پښتو قطعه(څلوریځه) په پنځمې لیږدیزې پیړۍ کې پښتو قصیده په اتمې پیړۍ کې پښتو مثنوي او غزل.

همدارنګه په ديواني پېرکې دويزه، پنځيزه، پاړکي، ترجيع بند، مخمس، مسدس او د شعر نور ډولونه له عربي ژبې نه پښتو ژبې خپل کړيدي.

پوښتنه: ديو شمير شاعرانو په شعرونو کې مستي، ياغيتوب، انساني غرور او سرکښي زياته ليدل کيږي. تاسو په شعر کې دا فکتورونه څه ډول څيړې؟

ځواب: د ټولنيزو دودونو ماتول او له سنتي ځانګړتياوو سرغړونه بغاوت ګڼل کيږي.

د شاعرانه ميني په بيباکو څپوکې چې استعاره، تشبې، سيمبولونه او شاعرانه تخيل وناڅي نو دې ته وايي ياغي شعر.

د شعر مستي د کلماتو هستي ده او دشعرهستي دکلماتو مستي، شعر لکه ميکده او شاعر لکه نخره بازساقي چې شنې، ښکلې او رنګينې پيالې نڅوي. د ساز او آوازمحفل ورته جشن نيسي.

ياغي شعر منطق نه مني ولې د شعر هنري دب دبه او منطق تلپاتې وي. دا ځکه چې د يوه اثر هنري اړيکې هغه دي چې د يوه منطق عواطف ټاکي.

همدارنګه زما په شعر کې هم کله کله دا ډول توکي تر سترګو کيږي. ولې ما تل هڅه کړې ده چې د شعر هنري ارزښت ته تم شم.

ساقي د زاهدانو په توبو وغوليدلي

په تمه دکعبې په بوتخانو وغوليدلي

پوښتنه: زموږ يو شمير ليکوالان په دې عقيده دي، چې دشعر په پرتله بايد نثر ته زياته پاملرنه وشي.تاسو په دې هکله څه نظر لرى، او دا راته ووایاست، چې دپښتو ادب دنثرونومکتبونه لکه: د سليمان ماکو مکتب، د مياروښان مکتب، دخوشحال خان خټک مکتب، د منشي احمدجان مکتب اوداسې يو شمير نور مکتبونه دپښتوژبې د ودې او پرمختګ لپاره څومره نقش او اغيز لوبولى دى؟

ځواب: هر ليکوال او شاعر چې هر څه ښه ليکلى شي، هماغه دې وليکي. موږ بايد شاعر ديته اړ نکړو، چې شعر پرې ږدي او نثر وليکي او يا د دې برعکس....

څومره چې د پښتود سبکونو او مکتبونو خبره ده، پدې اړه مو په تېره يوه پوښتنه کې اشاره کړيده.

پوښتنه: د پښتو په ادبیاتو کې د نثر له ډولونو څخه هنري او څېړنیزو نثرونو ته زیاته پاملرنه شوې ده او خلک یې ډېر خوښوي. تاسو د پښتو ژبې دعلمي او ادبي کولو، ودې او پرمختګ لپاره دهنري او څېړنیزو نثرونو اساسي ځانګړنې څه ډول څېرې؟

ځواب: هره ژبه هر ډول شعر او نثرته اړتیا لري.ولې زما په اند هنري اوڅېړنیز نثرښه دی چې ډېرولیکل شي.

د پښتو ژبې علمي کولوته غوره لاره دا ده چې پښتو ژبه د تکنالوژۍ ژبه شي، دښوونځیو او پوهنیځوژبه شي، دانټرنټ ساینس ژبه شي، د ادبیاتو اوهنر ژبه او له دې تولواوغوره به دا وي چې د نړۍ له نورو پرمختللو ژبونه یو شمېر مهم علمي آثار پښتو ژبې ته وژباړو.

پوښتنه: پښتو غزل هغه ژانر او صنف دی، چې دعشق او جذباتو سره تړاو لري. تاسو دپښتو غزل اصالت او سنتي ځانګړتیاوې په څه کې وینې؟ آیا په اوسني حالاتو کې دپښتو غزل دنورو ژبو دغزل سره سیالي کولای شي او که نه؟

ځواب: غزل دهغو بیتونو نوم دی چې وزن اوقافیه ولري او مینځپانګه یې په شاعرانه کلماتو چې عشقي رنګ او خوند لري رانغاړل شوي وي.

په غزل کې باید شاعرانه تخیل، مینه، ښکلاو دښایست بیلابیلې بڼې په خوږو او زړه راښکونکوکلماتو انځور شوي وي.

پښتو غزل په مینځني او اوسني ادبي پېړونو کې د پام وړ هنري باور ترلاسه کړی دی او موږ یې دسیمې له نورو ژبو دسیالۍ جوګه ګڼلی شو.

ته راته ووایه نرګس او که ګلاب دی باچا

چې ورته ګورې درته خاندي هم ثواب دی باچا

دګل په ژبه چې پوهېږې او رنګونه لولې

دا به ښکلا وي که شاعر؟ او که کتاب دی باچا

پوښتنه: ستاسو په نظر د اروپایي، هندي او پښتو موسیقي اساسي ځانګړنې کومې دي او څه توپیر لري؟ او دا راته ووایاست، چې موسیقي او شعر په خپل منځ کې څه تړاو لري؟

ځواب: اروپایي، هندي او پښتو موسیقي خپلې خپلې ځانګړنې لري. لومړی دا چې د دغو هیوادونو د موسیقی آلې هم پخپلو کې توپیر لري او ولسي ادبیات هم. لکه څنګه چې د پښتو ولسي سندرې لکه دماشومانوسندرې، دمیندو سندرې، دښادۍ سندرې، مذهبي

سندرې، سروکي، نیمکي، لنډۍ، غړانګې، کاکړۍ، بګتۍ، د اتڼ نارې او په نورو ملي اوزانو جوړې شوې سندرې دا هغه څه دي چې خپل شعر لري او خپله موسیقي، خپل سراوتال لري او خپله ملي موسیقي او ملي کمپوز.پښتو ولسي سندرې د موسیقی خپلې (الې) لري لکه ډول، شپیلۍ، سرنۍ، دوه تار، چنګ، رباب، سیتار، منګۍ چې اوس پښتو سندرې له تبلې ، ارمونیې ، له جاز موزیک اود معاصرې موسیقۍ له نورو (الو) سره لکه دهندي او اروپایي موسیقی په څېر زمزمه کېږي.

هندي راګونه او اروپایي جاز موزیک هم خپلې ښیګڼې لري او دا چې د پرمختللې موسیقي(الې) دمعاصرې موسیقی ډګر ته راوتلي دي دخپلو راګونو او سراوتال په بنسټ یې وده کړې ده، نو ځکه خو دوه تاره موسیقي په ګیتاروا وښته. همدا ډول نورې (الې)هم یادولی شو.

پوښتنه: مهرباني وکړی دلویدیزو ادبي او هنري مکتبونو لکه: ریالیزم، سمبولیزم، کلاسیزم، سوریالیزم او رومانتیزم په اړه لنډ مالومات راکړی؟

ځواب:

(Realism):

ریالیزم په بنسټیزه توګه دعیني واقعیتونوپه بنسټ هغه هنري او ادبي پنځونه ده، چې شاعر او لیکوال ټولنیزې پیښې په څرګند ډول پخپلو څرګندونوکي رانغاړي. انتقادي ریالیزم د ریالیزم پر مختللی شکل دی.

(Surealism):

دسوریالیزم پلویانو په (۱۹۲۴) میلادي کال کي یوه اعلامیه خپره کړه چې پکې راغلي وو: (سوریالیزم هغه خود به خودي روحي فعالیتونو ته وایي چې د هغو په وسیله وکولی شي د خولې یا د لیک یا له بلې هرې لارې د فکر واقعي او حقیقي فعالیت بیان کړي.) دوی باور لري چې د ادبیاتو دنده یوازې د تظاهراتو او فکري ښودنو سرته رسول دي چې ټول هنري، اخلاقي او منطقي بندیزونه یې له لاسه ورکړي وي.

کلاسیزم: کلاسیزم هغه ادبي مکتب ته ویل کېږي چې په اروپا کې یې له پنځلسمې (۱۵) پېړی نه راواخله تر اتلسمي(۱۸) پېړۍ پورې د پخواني روم او لرغوني یونان د هنر او ادب په بڼه کې ځان ښودلی دی.

د کلاسیزم مکتب په څو بنسټونو ولاړدی:

۱- د طبیعت ښودنه او څرګندونه....

۲- پخوانیو ته پاملرنه....

۳- دعقل پروا....

۴- د رښتیا ځلا .... او دا ډول نور....

دغه مکتب په (۱۶)او (۱۷) پیړی کې ډیر مشهور شو....

رومانتیزم: بیا د کلاسیزم په وړاندې بغاوت وکړاو یوشمیر لیکوالوپه سرکې د فرانسي نامتو شاعرانو او لیکوالو سر راپورته کړ او رومانتیزم د یوه فکري او اخلاقي انقلاب په توګه د ادب او هنر په نړۍ کې راوځلید.

دغه ادبي او هنري مکتبونه دهرې ټاکلې زماني ادبي، هنري او ټولنیزپرمختګونه په ګوته کوي. نو ځکه یو دبل پسې یو شمیر ادبپوهانو د دغو ادبي او هنري هاندو هڅو په لړ کې خپلو راتلونکو نسلونو ته ډیر څه په میراث پرې ایښي دي. نړۍ اوس د یوه کور په څیر د پرمختللې تکنالوژي په مټ د هر تن د کړو وړونه خبریږي او متاثر کیږي.

پوښتنه: ویل کیږي، چې ادب په عمومي ډول او کیسې په خصوصي ډول د یو ملت، قوم او ټولنې دعاداتو، فکرونو، او احساساتو هینداره ده. په پښتو ادب کې هم له ډیرو پخوانیو زمانو څخه اوږدې کیسې او نکلونه شته لکه: د آدم خان او درخانۍ او فتح خان نکلونه، دمومن خان اوشیرینو داستان، د سیف الملوک او بدرۍ جماله کیسې او داسې یو شمیر نور ادبي لیکونه. تاسو د دغو کیسو، داستانونو اونکلونو ارزښت دپښتو ادب د ودې او پرمختګ لپاره څه ډول څیرې؟

ځواب: رښتیا هم چې ولسي ادبیات د یوه ولس د کړو وړو هینداره ده او د پښتو اولسي ادبیاتو شتمنۍ دومره پیاوړې ده چې بیلګې یې په نړۍ کې لږ لیدلی شو چې موږ پښتو لنډۍ او پښتو داستاني ادبیات دنمونې په ډول د یادولو وړ ګڼو. موږ پښتو اولسي ادبیات په ځانګړي ډول داستاني ادبیات په درې بڼو موندلی شو:

لومړی هغه داستاني اثار دي چې په نظم کښل شوي دي.

دویمې هغه اولسي کیسې دي چې په نثر لیکل شویدي.

دریم داولسي کیسو هغه ډول دی چې هم نثر او هم په نظم دواړو کارل شویدي، لکه د ادم خان او درخانی ، سیف الملوک او بدرۍ جماله ، مومن خان او شېرینو او په لسګونو نورې یادولی شو.

پوښتنه: فلسفه، تصوف او عرفان په شاعرۍ کې څه ډول څیرې؟ ستاسو په آند په دغو

برخو کې د پښتو ادب په ډګر کې کومو شاعرانو زياتره خپل ذوق آزموېلې اوډېره پاملرنه يې ورته کړې ده؟

ځواب: دپښتو ادبياتو په درې واړه پيرونو کې او په بېلابېلو بهيرونو کې ډېر شاعران پيژنو چې په شعرونو کې يې فلسفي رنګ او خوند له ورايه تر سترګو کيږي. که چيرې موږ په دغه برخه کې يوازې دپښتود مينځي ادبي پيرد دوه تنو نامتو شاعرانو يادونه وکړوچې نوموړو پدې تړاو څه ليکلي او کښلي دي کفايت کوي.

خوشحال خان ختک او رحمان باباچې د تصوف او عرفان په رڼا کې او په ځانګړې ډول د (واحدت الوجود) او (وحدت الشهود) دنظريو په تړاو کوم شعرونه کاږلي دي ښوبيلګې يې داسې دي:

خوشحال ختک وايي:

په هر څه کې ننداره دهغه مخ کړم

چې له ډيرې پيدا يې نا پديد شو

ګوروچې دا شعر د واحدت الوجود د نظرې يوه بيلګه ده. پدغې نظرې کې دحق شته والی او د هر څيز وجود د خدای شتون دی. دانه چې هر شی خدای دی.

رحمن بابا وايي:

هسي نه چې واحدې يې دی له عجزه

په واحد وجود بسيار دی رب زما

همدارنګه خوشحال ختک د (واحدت الشهود) د نظرې په اړه هم ډير شعرونه کښلي چې نوموړی د هر څيز په وجود کې ديوه واحد خدای (ج) مشاهده کوي لکه چې ويلي يې دي:

يار دما څخه په کور دننه ناست وو

زه بېرون ته ګرځيدم د ده په مرسته

په شهودي توحيد کې د معرفت نه پس سالک ته معلومه شي چې حق د هغه د وجود نه بهر نه وو.

پوښتنه: ارسطو وايي: (دشاعر وظيفه د اسطورې جوړول دي). ستاسوپه آند شعر د اسطورې سره څه اړيکې لري، او اسطورې د پښتو پر شعر څه اغيز لري؟

ځواب:

استوره د تخیل په بنسټ مینځته راځي او شاعر له هر چا زیات استوره جوړوونکی دی. استوره دخیالي نړۍ هغه اړیکه ده چې شاعر یې د خپل شعر لپاره راوړي او له چاپیریال سره اړیکه ټینګوي.

پښتو شاعران هم د نړۍ د نورو شاعرانو په څیر پخپلو شعرونو کې استورې راوړې دي.

دا ځکه چې استوره د شعر هنداره ده. که چیرې موږ دپښتو په اولسي شاعرۍ کې او یا په اوسنۍ شاعرۍ کې استورې وشمیرو نو شمیر یې سلګونو ته رسیږي. چې زموږ د ټولنې هر پړاو د استورو په تړاو په هر ټاکلي زمان کې خپل مخ لیدلی شي.

پوښتنه: ستاسو په نظرآیا د اسطورو، حماسو، نکلونواوکیسو تر منځ توپیر موجود دی او که نه؟ مهرباني وکړی په دې اړه خپل نظر راته بیان کړی؟

ځواب: موږ په تیره پوښتنه کې د استورې په اړه وویل چې د تخیل په بنسټ مینځته راځي، ولې له حماسې سره یې توپیر پدې کې دی، چې حماسه د زړورتیا په مانا ده، چې نه یوازې له استورې سره توپیر لري، بلکې له جنګنامې سره هم یو شی نشو ګڼلی.

د (هومر) نه د مخه استورې دحماسو په بڼه انځور شویدي. ولې زه پدې اند یم چې استوره د حماسې په پرتله انساني چاپیریال ته نږدې ده.

حماسه لکه د استورې په څیر نړیواله واژه ده او په درې (۳)اړخونو را څرخي لکه:

محیط – شخصیت – پیښې. د مثال په ډول شهنامه نه یوازې تاریخي ارزښت لري بلکې استوري او حماسي رنګ او خوند هم لري.

پوښتنه: زموږ افغانستان یو غرنی هیواد دی، او د تاریخي اسنادو له مخې افغانان د پنځه وشپږو زرو کلونو په شا اوخوا کې لرغونی تاریخ لري. پښتانه د یوغیرتي اومیړني قوم په توګه او دقلم دخاوندانو په حیث پیژندل شوي دي، او همدا ډول پښتو دپښتنو یو پخه، زړه آریایي لرغونې ژبه ده. مهرباني وکړی تاسو دیو څیرونکي، ادبي او فرهنګي شخصیت په توګه دپښتو ادبیاتو د تاریخ په هکله او دپښتو ژبې د لرغونتوب په اړه د تاریخي او ادبي اسنادو له مخې په لنده توګه معلومات راکړی؟

ځواب: اوسني څیرونکي انګیري چې افغانستان د پنځواوشپږوزرو په شاوخواکې لرغونی تاریخ لري. د اریایانودمهال(ویدي- اوستایي) تمدن زموږ د هیواد له ویاړونو څخه ګڼل کیږي. پښتانه هم آریایان او ژبه یې هم اریایي ده. د همدغو اریایانو ژبه (اریک) نومیده

او له دغې ژبې نه اوستا، سنسکرټ، پښتو، پارسي، بلوڅي، نورستاني، پشه یې، او نورې ژبې زیږېدلې دي.

په ټوله کې پښتو ژبه یوه اریایي ژبه چې په هندواریایي څانګه کې راځي او بیا د دې څانګې په اریاني ګروپ کې شامیلیږي او له هغه وروسته ختیځ شمال ښاخ پورې اړه لري.

پخپله دپښتون نوم د نړۍ په تاریخ کې یو لرغونی نوم دی چې لږ تر لږه تر ویدي مهاله پورې رسیږي.

تقریبا لږ تر لږه (۲۵۰۰) کاله پخوا هیرودت چې د تاریخ پلار یې بولي د پښتنو څنې قومونه داسې راپیژني: اپاریتي= اپریدي، ګندهاري=کندهاري، اسپه زي=یوسفزي، ساک=ساکزي، ستاګیدي=خټک،

پوښتنه: تاسو په ادبي چارو کې نقد او کره کتنې څرنګه ارزوی؟ او د ادبي او فرهنګي مرکزونو دجوړولوپه اړه په هیواد کې د ننه او بهر، چې هلته با صلاحیته ادبي او فرهنګي منتقدین اوکره کتوونکي موجود وي څه نظر لری؟

ځواب: د ادبیاتو د ودې او پرمختګ لپاره او د ادبي څیړنو دپراختیا اوپرمختیا لپاره څو ادبي هڅو ته اړتیا لیدل کیږي، لکه: ادب تاریخ، ادبي کره کتنه، ادبي فنون، ادبي تیوري اونورې ادبي هاندې هڅې.

ادبي کرکتنه دیو ادبي اثر د کره کولو لپاره د ښیګڼو او بدګڼو هنداره ده چې ګڼي یو ادبي اثر څومره هنري او ادبي ارزښت لري او څومره نیمګړتیاوې؟

کره کتونکې د یوه اثر د کره کولو لپاره باید درې بنسټونه هیر نکړي:

لومړی دیوه ادبي او هنري اثر د ادبي ښیګڼو انعکاس.

دویم دیوه ادبي اثر د نیمګړتیاووبرسیره کول.

دریم غوره به وي چې کره کتونکي د یوه ښه او معیاري اثر لپاره خپل وړاندیزونه وړاندې کړي. کره کتونکی باید لکه دیوه ښه قاضي په څیربې پرې وي. داچې د ادبي هڅو لپاره کوم فرهنګي او ادبي مرکزونه له هیوادنه بهر او یا په هیواد کې دننه جوړ شویدي دپام وړ دي دا ځکه چې دځوان نسل لپاره ځانګړی ارزښت لري.

ادبي کره کتنه دخپل نړیوال ارزښت له مخې اوس د نړۍ په بیلابیلو هیوادونو کې ځانګړې ارزښت لري او د یوه اثر د ګټورتوب او شهرت لپاره کره کتنه یوه غوره وسیله ګڼل کیږي.

له بده مرغه چې زموږ په هیواد کې لا تر اوسه دادبي کره کتنې دود ته پاملرنه نه ده شوې. دا اوس دستي په افغانستان کې د ګوتو له شمیره نه ډیر تلویزونونه فعال دي او په سلګونه ډله ییزي رسانۍ او خپروني په کار بوخت دي. ولې د ادبي کره کتنې رنګینې وړانګي لا تتې دي او نه ځلیږي.

پوښتنه: تاسو د یو ادبي او فرهنګي شخصیت په توګه دیو هنرمند، شاعر او لیکوال تعهد، رسالت او مسولیت په ټولنیز ژوند کې د هنر او ادبیاتو په ډګر کې څرنګه څیرۍ؟

ځواب: شاعر، هنرمند اولیکوال لکه د ټولنې د نورو غړو په څیر دوی هم ټولنیز مسولیتونه لري. دوی کولی شي چې د شعر او هنر له لارې د ټولنیز شعور د ودې او پرمختګ لپاره یو رغنده رول تر سره کړي ځکه چې د شعر او هنر ژبه ډیره خوږه او زړه راښکونکې ده.

پوښتنه: تر هغه ځایه، چې زه خبر یم تاسو په پیښور کې د احمدشاه ابدالي پوهنتون، چې اوس د خوست پوهنتون دی بنسټ ایښودونکی یاست، او څلور کاله د دغې پوهنتون د ریس په توګه مو دنده درلوده. مهرباني وکړی په دې اړه یو څه مالومات راکړی؟ او دا راته ووایاست، چې په کوزه پښتونخوا کې زموږ پښتنو ورونو کوم بنسټیزادبي او فرهنګي فعالیتونه ترسره کړي دي؟

ځواب: هغه وخت چې د ډاکټر نجیب الله حکومت ړنګ شو. زه هم لکه د نورو هیوادوالو په څیر پښتونخوا ته کډه شوم. هلته یو شمیر پوهنتونونه دیوشمیر تنظیمونو لخوا جوړ شوي وو. لکه د دعوه الجهاد پوهنتون دسیاف لخوا ، د ګل البدین حکمتیاردحزب اسلامي په نوم او برهان الدین رباني دخپلو تنظیمونو لپاره پوهنتونونه جوړ کړي وو.په دغه وخت کې زه د دعوت الجهاد پوهنتون ته لاړم که چیرې زه د استادي په دنده وګمارل شم. له نیکه مرغه چې د درې زره کلدارو په تنخوا ومنل شوم خو د لارې له بابته راته ستونزمنه وه چې پوهنتون ته تګ او راتګ وکړم.

ومې لیدل چې ډیر ځوانان له لوړو زده کړو نه محروم وه. نو ومې غوښتل چې دیوه شخصي پوهنتون بنسټ کیږدم. لومړی مې د احمدشاه بابا لیسه جوړه کړه، او بیا مې یو کال وروسته په (۱۹۹۳) زیرډیز کال کې داحمدشاه ابدالي په نوم پوهنتون جوړ کړ، چې د طب پوهنځی، انجینري، شرعیاتو، حقوقواوسیاسي علوموپوهنځي پکې فعال شول.

زه څلور کاله د پوهنتون ریس وم او په دغه موده کې پوهنتون ډیر پرمختګ وکړ، دطب او انجینري پوهنځیو لپاره مې د ټرینګ بنسټونه جوړ کړل. له لابراتوړونو نه سربیره مې یو روغتون هم جوړ کړ.

کله چې دپاکستان حکومت پدې پوه شو چې يو شمير افغان ځوانان او دپښتونخوا په خاوره کې د نيشنل عوامي ګوند او دپښتونخوا ملي ګوندغړو دلته د زده کړو لپاره چې شمير يې درې زره اوه سوه (۳۷۰۰) تنو ته رسيده پيل وکړ او دهرې ورځې په تيريدو پوهنتون د پرمختيا او پراختيا پړاوونه وهل نوبيا: (ای ـ اس – ای) يا

(I.S.I)

ديوه مکتوب په ترڅ کې پدې پلمه چې دغه پوهنتون دهند او روسې په مالي ملاتړ چليږي راته ګواښ وکړچې دپوهنتون ريس سنګروال بايد په (۴۸) ساعتو کې د پاکستان له خاورې ووځي او په ځای يې د پيښور د پوهنتون ريس (درانی) دپوهنتون چارې پرمخ يوسي. نو پاکستان د احمدشاه ابدالي نوم په افغان پوهنتون واړوه چې اوس په خوست کې دی.

پوښتنه: د تاسو پيغام ديوشاعر او ليکوال په توګه هغه ځوانانو ته، چې په هيواد کې دننه او بهر د ادبي اوفرهنګي فعاليتونو سره بوخت دي څه دی؟

ځواب: شعر د ښتن تعالی پيرزوينه ده چې چاته يې په برخه کړي وي، خو د دې لپاره چې شاعر او ليکوال ډير څه وليکي او ښه يې وليکي غوره ده چې شاعر دفرهنګي شتمنۍ په مټ او ملاتړ خپلې ليکنې پخې او کره کړي.

له تاسو څخه ډيره مننه، چې زما پوښتنو ته مو پوره او کره ځوابونه راکړل.

له تاسو نه هم ډيره ډيره مننه ګران او محترم انجنير صاحب.

په ډير درنښت او ادبي مينه: انجنيرعبدالقادرمسعود